

# د پښتو ادبياتو پينځه ستوري

عرفان الله (ننګيال)

د بري پښتونخوا د پښتو او سنې ادبي نړۍ کې پينځۀ ادبي ستورې (حبيبي، الفت، خادم، بينوا ، او رښتين دي چې ډېر شهرت لري او د استاذۍ درجې ته رسېدلي دي چې دغو استادانو څخه يو هم عبدالحي حبيبي دی.

١- عبدالحی حبيبي د عبدالحق ځوی په ختيه کاکړ او ١٢٨٩ ش کال د پنجشنبې په ورځ د ثور يا غوايي په مياشت کې د کندهار ښار د بامذی په سيمه کې په يوه علمي او فاضله کورنۍ کې زېږېدلي دی.

پوهاند حبيبي صاحب ١٢٩٩ لمريز کال د کندهار د شالمار په لومړي ښوونځي کې شامل او ددې ترڅنګ يې په خصوصي توګه د مرؤجو ادبي علومو او فنونو زده کړه هم پيل کړه.

په ١٣٠۴ لمريز کال له نومړي ښوونځي څخه فارغ او په خصوصي ډول يې د ديني او تصدي علومو او فنونو لوستلو ته دوام ورکړو.

فقه، حديث، تفسير، منطق، صرف، نحو، فصاحت او بلاغت او د نړۍ د مشهورو پوهانو او اديبانو د نظم او نثر زيات کتابونه يې ولوستل.

دندې: په ١٣٠۴ لمريز کال پوهاند عبدالحی حبيبي صاحب (١۵) کلن زلمي ؤ. چې د کندهار ښار په يو ښوونځي کې د ښوونکي په توګه خپله رسمي او دولتي دنده پيل کړه.

کتابونه يې په لاندې ډول دي.

١- د خوشحال خان مرغلرې



٢- قصيده د پښتو ادب په تاريخ کې

٣- افغانستان بنستې (تاريخ)

۴- د افغانستان مختصر تاريخ

۵- پښتو ښوارلس سوه کاله پخوا.

او داسې نور....

د شعر نمونه يې: د خوشحال روح ته ځواب:

نـه يې مـړ تـه خـو ژونـدی يـې
اې ادبــــــه ننګيــــــاليه!
دا ښــه نــوم دې دايمــې دی
پــه ابــد ژونــدون ژونــديه
تـه زمـونږ ملـې پيشـوا يـې
د پښــــتون پلار توريــــاليه!
پښتو نـواله دې ژونـدی کـړه
د پښتون لوی برياليه

مړینه: عبدالحی حبیبي صاحب په ۱۳۶۳ کال کې وفات شو او په کابل کې د شهدای صالحین په هدیره کې خاورته وسپارل شو روح دې ښاد وي.

۲_ استاد گل پاچا (الفت) : اروا ښاد استاد گل پاچا الفت نومیالی شاعر ستر ادیب او لیکوال او خدای بخښلی میر سید پاچا ځوی دی.

نوموړی په ۱۹۰۹ع کال د افغانستان لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ د عزیز خان په کڅ کې پیدا شوی دی.

د زده کړې په برخه کې ده په ننگرهار او کابل کې په خصوصي توگه د هغه وخت رواجي علوم لکه صرف، نحو، منطق، تفسیر، حدیث معاني او بیان له مشهورو عالمانو څخه لوستي دي.

الفت مروجه علومو د زده کړې څخه وروسته د لومړي ځل لپاره په ۱۹۳۵ ع کال چې د ۱۳۱۴ ش کال سره سمون خوري د انیس ورځپانه کې د کاتب په توگه په رسمي کار کې شامل شو.

د استاد الفت چاپ شوي کتابونه په لاندې ډول دي.



۱- د پسرلي نغمه
۲- بله ډیوه
۳- لوبې خیالونه او ژور فکرونه
۴- غوره نثرونه
۵- املا او انشاء

او د اسې نور د شعر نمونه یې

د گودر په غاړه
پروت وو ماته کودړی
ویل یې زه ووم روغ منگې کولال جوړ کړی
دلته لوبو کې زه مات یوه ځلمي کړم
یوې پیغلې په اوږو ومه راوړی

مړینه: معاصر ادب کې لوی ادیب د عالي افکارو او لوړو خیالونو او ژورو فکرونو خاوند د لیندۍ په ۲۸ نېټه د ۱۳۵۶ ش کال د دې دنیا نه د تل لپاره سترگې پټې کړې دي او د لغمان په کڅ کې خاورته وسپارل شو.

۳_ استاد قیام الدین خادم : د پښتو ژبې د رښتیني خدمتگار یو پوخ لیکوال ښه شاعر نومیالی ادیب او د فلسفي افکارو خاوند دي.



خادم په ۱۳۲۵ هـ ق کال د ننگرهار په شاعرانه ولایت او د (کامې) په ولسوالۍ کې په یوې علمي کورنۍ کې زیږیدلی دی. د خادم پلار ملا حسام الدین او نیکه یې ملا علي گل هم د خپل وخت دیني عالمان مولوي خادم خپلې لومړنۍ زده کړې ننگرهار، پیښور او هند کې سرته رسولي دي.

او د منطق، صرف، نحو، تفسیر، حدیث او نورو دروجه علومو لوستلو څخه وروسته په جلال اباد کې د لومړني ښوونځي د ښوونکي په توگه په رسمي کاروبار لاس پوري کړی دی.

په ۱۳۱۱ ش کال د کندهار په پښتو انجمن کې

شامل شو او له دغه وخته يې د ليکوالۍ
اساسي دوره شروع شوه.
استاد خادم کوم کتابونه چې موږ ته معلوم دي او چاپ شوي دي په لاندې ډول دي.
۱- معلم پښتو په کندهار کې چاپ او خپور شوی دی.
۲- روهي ګلونه
۳- نوی ژوندون
۴- خيالي دنيا: يو غوره ادبي نثر دی.
۴- نوې رڼا: دده د تعالو يوه لويه مجموعه ده.
او داسې نور...
د شعر نومونه يې:

**خوبونه مې ليدلي**

په وروری او محبت کې مې خوندونه دي ليدلي
خو د خلکو په خدمت کې مې ځورونه دي ليدلي
عجيبه شان ديناده چې دا مونږ پکې اوسيږو
په تحقيق د مسئلو کې مې جنګونه دي ليدلي

مړينه: مولانا خادم د دوشنبې په شپه د سنبلې په پينځمه نيټه په ۱۳۵۸ المريې کال په کابل کې د تل لپاره سترګې پټې کړې او د خپلوانو لخوا په ننګرهار کې د خپلې پلارنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

۴_ استاد عبدالروف بينوا: د افغانستان د معاصرو شاعرانو او ليکوالانو څخه دی.
بينوا د ملا عبدالله ځوی په خته عاليزی پښتون دی چې په (۱۹۱۳ع) کال د کندهار په پاشمول کې زيږيدلی دی عربي ديني او ژبني علمونه يې لوستي دي.
بينوا د پخوا څخه د شعر او شاعرۍ سره مينه درلوده دده لومړي اشعار (طلوع افغان) کې خپاره شوي دي.



بينوا سربيره د خپلې مورنۍ ژبې پښتو په عربي او فارسي ښه پوهېده او په نظم او نثر کې ډېرې پخې ليکنې کړيدي.
بينوا د پښتنو فرهنګ د پاره ډېر کتابونه ليکلي او ډېرې جايزې يې هم اخيستي دي.
د ده دغه لاندې کتابونه تر او سه څرګند شوي دي.
۱- پښتو کلی: درسي کتاب دی
۲- پرديس: په پښتو نظم د ډاکتر اقبال (مسافر) ترجمه ده
۳- دغنمو وږی: په نظم دی
۴- ځلمي شهيد: ډرامه ده
۵- د ختيکو دوره
او داسې نور...
د شعر نمونه يې داده:

تش خيالي پوچه سودا يا دا وکړه يا دا
يا د خپل حيات تقدير شه يا په فکر د تدبير شه

۵- استاد صديق الله (رېښتين): د پښتو ژبې او د ادبياتو يو مسلکي پياوړی او پوخ ليکوال او پوهان دی.
رېښتين د مولو تاج محمد خان ځوی د پښتو لوی غمخور د (۱۳۴۰هـ ق)، (۱۲۹۸) هل کال د مومند په سره کمر کې زيږيدلی دی، لومړنی

زده کړي پخپلې علمي کورنۍ کې کړې دي.

او بیا نوره زده کړه یې د ننګرهار د هډې په نجم المدارس او د کابل په عربي دارالعلوم کې سرته رسولې ده پوهاند رښتین په عربي، اردو او فارسي ژبو ډېر ښه پوهیده، او پوهېده ژبو کې د ده مقالې هم خپرې شوې دي.

پوهاند رښتین د ادبیاتو په پوهنځي کې د پخواني استادۍ او زیاتو اثارو له کبله اول پوهنوال او بیا په ۱۳۴۰ ش کال د پوهاند لوړې درجې ته ورسید.

د پوهاند ریښتین چاپ شوي کتابونه دادي.



۱- د هند کتابخانې
۲- د فکر پلوشې
۳- د ښکلا ورمه
۴- د ژوند پلوشې
۵- لرغوني پښتو
او داسې نور...

د شعر نمونه یې دا ده:

مارغه د خیال مې په سپین غره باندې سر شاره ګرځي.
هوا مې سر کې نن تازه له دې کهساره ګرځي.
وینم هر لورته د بلبلو شور ماشور دی په کې
په شنو نښترو شنه طوطیان مست له چغاره ګرځي.

# قام

## - غني خان -

ستورو ته مې رازوایمه، بام سره خبرې کړم
ستا سترګې چې نه وینم، نو جام سره خبرې کړم
شپه ده او سپوږمۍ ده، زه یوازې او یوازې یم
شمعه او شیشه لرم، خیام سره خبرې کړم دی
راته ستا سترګې او ستا سترګې ملامتې کړې
زه چې مې دزړه له هرناکام سره خبرې کړم
هیڅ یوه شیبه یې ستا له یاده خالي نه وي، چې
زه دهرې ورځې له انجام سره خبرې کړم

ستا د خوږو شونډو منطق پټ ساتم په شونډو کې
زه په ځان باورلرم، ارام سره خبرې کړم
زه خو په سیاست هم ستا پیکې او مخ عادت کړمه
سپین سهار ته ناست یم او ماښام سره خبرې کړم
دواړه مې دوینو تږي، دواړه دي چاړه په لاس
یو خوا له پاچا، بل خوا امام سره خبرې کړم
څوک به مغول تیغ نه دافغان ماشوم مرۍ ساتي؟
نه شته خوشال نه شته، له بهرام سره خبرې کړم
زه لیونی ګډ یم، دی خبر په خیرو شر نه شو
لاهم داسې ولس، لا داسې قام سره خبرې کړم